# د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۲۱- ۱۳۸۹ |
| موضوع: | - په ابتدایي لست کې د ولسي جرګې د هغو ۷ تنو کاندیدانو د شاملولو په اړه د ټاکنیزو شکایتونو پریکړه چې په ابتدایي لست کې شامل نه وو<br>- د کابل د ولایتي شورا د دریو مستعفي وکیلانو د ځای ناستو معرفي کول<br>- د دولتي رسنیو چلند اصول<br>- د باورلیک صادرول |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت، نیټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غبرګولي ۲۷، چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د جون له ۱۷ نېټې سره سمون لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي : | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلې مومنه یاري ، آغلې مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د غونډې په اجندا کې د شاملو موضوعګانو په اړه د ټاکنو خپلواک کمیسیون لاندې پریکړې وکړې:**

1. د ټاکنیزو شکایتونو د پریکړې پراساس ۷ تنه هغه کاندیدان چې په ابتدایي لست کې شامل کړل شوي نه وو، بیرته په ابتدایي لست کې شامل کړل شول او له نن ورځ څخه (پنجشنبه د غبرګولي ۲۷) د غبرګولي تر ۲۹ پورې د درې ورځو لپاره د نوموړو کاندیدانو په اړه د تصحیحاتو او نیوکو موده په پام کې نیولې ده، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید د نوموړو کاندیدانو په اړه د شکایتونو او نیوکو وروستی پایلې د غبرګولي تر ۳۱ نیټې پورې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته وړاندې کړي.
2. د کابل ولایت د ولایتي شورا د دریو تنو مستعفي وکیلانو ځای ناستي د ۱۳۸۸ کال د ولایتي شورا د ټاکنو د پایلو په پام کې نیولو سره د کابل ولایتي شورا ته باید معرفي کړل شي.
3. د دولتي رسنیو چلند اصول د یو لړ بدلونونو او تعدیلونو څخه وروسته تایید او تصویب دی.
4. د عدلیې محترم وزارت څخه د رارسیدلي مکتو ب پراساس، یوازې د هغو سیاسي ګوندونو نوم په رأیپانه کې لیکل کیدی شي چې د سیاسي ګوندونو د قانون له مخې د عدلیې وزارت سره ثبت شوی وي.
5. د EL MUNDO رسنیز بنسټ او د افغانستان د څیړونکو شبکې ته دې باور لیکونه ورکړل شي.